MUSAWER مُصـــور    RAWADARI رواداری

گډه اعلامیه

22/03/2025

# د افغانستان د ښځو او نجونو د زده‌کړې له حق څخه د محرومیت څلورم کال

د ۲۰۲۵ تعلیمي کال پیل او په افغانستان کې د ښوونځیو پرانیستل، د دې هېواد د ښځو او نجونو د زده‌کړې له حق څخه د محرومیـت څلـورم کال یادوي، چې هغوی د جنسي تبعیض او ظلم لاندې ژوند ته مجبورې کړې دي. په دې موده کې، طالبانو د لیکلیو او شفاهي فرمانونو له لارې، په پراخ او سیستماتیک ډول، له ۱.۵ میلیونه څخه ډېرو ور نجونو د ښوونځي او زده‌کړې حق اخیســتی دی. اوس چې نوی تعلیمي کال پیلېږي، بدبختانه د طالبانو د تبعیض پر بنســټ سیاست کې د بدلون هېڅ نښه نه شته، او نه هم د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانیستل کېدو هیله لیدل کېږي. دا وضعیت د ښځو پر وړاندې د ټولو تبعیضي بڼو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون ښکاره سرغړونه ده او کېدای شي د بشریت پر ضد د جرم یوه بڼه وبلل شي.

د ښځو او نجونو د زده‌کړې له حق څخه محرومیت تر اوسه کورنیو او ټولنې ته جدي ټولنیزې، رواني او اقتصادي ستونزې پیدا کړې دي. هغه نجونې چې یو وخت یې د لوړو زده‌کړو او علمي بریاوو لوېې هیلې لرلې، اوس له هېڅ روښانه راتلونکي پرته، له ګڼو ســتونزو سره مخ دي. ژور خپګان، رواني ناروغۍ، جبري او زودهنګام واده، او د ځان وژنې زیاتې هڅې، د دې وضعیت مهمې پایلې دي. د طالبانو دا تبعیض‌محوره سیاست، ټولنه د ښځو له استعدادونو او مهارتونو بې‌برخې کړې او د هېواد ټولنیز او کلتوري پرمختګ ته یې جبران‌ناپذیره زیان رسولی دی.

د نوي تعلیمي کال په درشل کې، رواداري او مصور د طالبانو له سیستماتیکو هڅو اندېښمن دي، چې غواړي د افغانستان د زده‌کړې نظام ایدیولوژیک کړي، چې دا به د دې هېواد د ماشـومانو پر راتلونکي ناوړه اغېزې ولري. طالبان، د ښـځو د زده‌کړې د مخنیوي تر څنګ، د قومي او مذهبي لږکیو ماشومانو ته د مذهب، تاریخ او کلتور د تدریس مخنیوی هم کوي. همـدارګز، هغوی د ښـوونځیو په نصاب کې پراخ بدلونونه راوړي، چې له امله بـه یې تبعیض، جنسي نابرابري او د ټولنې کلتوري تنوع له منځه یوړل شي.

سره لـه دې، مـوږ ټینګار کوو چې د افغانســتان د ښـځو د بشري حقونو د دوامداره سرغړونو مخنیـوی او د هغوی د زده کـړې د حـق تضمین یوازې د طالبانو د نړیوالو بشري حقونو د میکانېزمونو له لارې حسـاب ورکولو او د نړیوالې ټولنې، په ځانګړې ډول د اسلامي او سـیمې هېوادونو جدي فشـار ته اړتیا لري. موږ هیله لرو چې رواني هڅې به د زده‌کړې د حق د ټولو سرغړونکو محاکمه یقیني کړي او د ښځو د موجود ظلم او تبعیض دایمي پای ته رسېدو ته به لار هواره کړي.

پای